INS-A003 - د زده‌کوونکو ځورونه، ځورول، ګواښ، زورونه، سایبري زورونه، ګواښووونه، او د تنکیو ځوانانو د مینې تاوتریخوالی

اداري پالیسي

لاربښوونه

لنډیز

د سالم-کایزر ښوونیزه حوزه ژمنه ده چې داسي چاپېریال برابر کړي چې زده‌کوونکي پکې زده‌کړه وکړي، د ښوونځي په ملاتړ شویو فعالیتونو کې برخه واخلي، او په داسي چاپېریال کې کار وکړي چې له ځورونې، ځورولو، ګواښ، زورونې، سایبري زورونې، ګواښووني او د تنکیو ځوانانو د مینې له تاوتریخوالي څخه پاک وي.

تعریفونه

حوزه (District)

د ښوونځي ودانۍ، د ښوونځي ساحې، او هغه ځایونه هم شاملوي چې د ښوونځي پورې تړلي نه وي خو زده‌کوونکي پکې د ښوونځي په اړوند فعالیتونو لکه تفریحي سفرونو یا ورزشي سیالیو کې د ښوونځي تر مسؤلیت لاندې وي.

دریم اړخونه (Third Parties)

پکې روزونکي، د ښوونځي داوطلبان، والدین، د ښوونځي لیدونکي، قراردادي خدمتونه، یا نور هغه کسان شامل دي چې د ښوونځي له چارو سره بوخت وي، لکه د شرکتونو کارکوونکي چې د ښوونځي سره په ګډو پروګرامونو کې برخه لري، او هغه کسان چې په بین‌البنوونیزو یا داخلي ورزشي سیالیو او نورو فعالیتونو کې د ښوونځي مستقیم کنټرول لاندې نه وي.

ځورونه (Hazing)

هر هغه عمل چې په بې‌پروایي یا قصدي ډول د زده‌کوونکي ذهني یا فزیکي روغتیا یا خوندیتوب له خطر سره مخ کړي، د دې لپاره چې یو زده‌کوونکی د کومې ډلې غړی شي، یا د ښوونځي په ملاتړ شویو فعالیتونو کې شامل شي، یا د کومې درجې تړلاسه کول شرط وګرځي، ځورونه بلل کېږي. پدې کې شامل دي، خو محدود نه دي، جبري شخصي خدمتونه، جنسي تحرک یا جنسي تېرۍ، د هر ډول مشروباتو، الکولو، مخدره موادو یا کنټرول شویو موادو جبري استعمال، د چاپېریالي شرایطو سره جبري مخ کېدل، له تولنیزو اړیکو څخه اوږدمهاله جلا کول، د خوب نه ورکول، یا هر بل جبري عمل چې د زده‌کوونکي ذهني یا فزیکي روغتیا یا خوندیتوب ته زیان ورسوي. همدارنګه پکې دا هم شامل دي چې بل کس دې ته اړ کول، هڅول یا اجازه ورکول چې نامناسب یا فزیکي پلوه درانه توکي واغوندي یا انتقال کړي، یا د توکو، شوخو او نورو داسي فعالیتونو ترسره کول چې هدف یې سپکاوی یا تحقیر وي. دا د دفاع دلیل نه ګڼل کېږي چې زده‌کوونکي چې ځورونې سره مخ شوی، رضا درلوده یا داسي ښکاره کېده چې رضا دی.

ځورول، ګواښ او زورونه (Harassment, Intimidation, Bullying)

هر هغه عمل چې د زده‌کوونکي په تعلیمي ګټو، فرصتونو یا فعالیت کې د پام وړ خنډ رامنځته کړي، او د ښوونځي په ساحه کې، یا د هغې نړدې سیمو کې، د ښوونځي په ملاتړ شویو فعالیتونو کې، د ښوونځي له خوا برابر شوي ترانسپورت کې، یا د ښوونځي په رسمي بس تمځای کې ترسره شي، ځورول، ګواښ او زورونه بلل کېږي. دا ډول چلند کېدای شي د یو شخص د ساتل شوي ډلې پر بنسټ وي، خو یوازې ورته محدود نه دی، او پایله یې دا وي چې:

- زده‌کوونکي ته فزیکي زیان ورسوي یا د هغه/هغې شتمني زیانمنه کړي
- په قصدي ډول زده‌کوونکی د فزیکي زیان یا د شتمنی د زیان له معقولي وېرې سره مخ کړي
- داسي دښمنانه تعلیمي چاپېریال رامنځته کړي چې پکې د زده‌کوونکي رواني هوساینه اغېزمنه شي

سایبري زورونه (Cyberbullying)

د هر ډول بریښنایي اړیکو وسیلې کارول د دې لپاره چې یو ځوک ځورول، ګواښل یا وربانديي زور وشي، سایبري زورونه ګڼل کېږي. که دا ډول اړیکه د ښوونځي له ساحې بهر هم وشي خو د خوندي او مثبت تعلیمي یا کاري چاپېریال مخه ونیسي یا یې ګډوډ کړي، بیا هم سایبري زورونه بلل کېدای شي.

ګواښووونه (Menacing)

هر هغه عمل چې موخه یې دا وي چې د ښوونځي کارکوونکی، زده‌کوونکی یا دریم اړخ د ژر راتلونکي جدي فزیکي زیان له معقولي وېرې سره مخ کړي.

مینه یا د اړیکې حالت (Dating Relationship)

د دوو کسانو ترمنځ دوامداره ټولنیزه اړیکه چې رومانتیک یا نږدې طبیعت ولري. دا عادي ملګرتیا یا ساده ټولنیز تعامل نه ګڼل کېږي.

د تنکیو ځوانانو د مینې تاوتریخوالی (Teen Dating Violence)

هغه تکراري چلند چې یو کس پکې د فزیکي، رواني یا عاطفي زور څخه کار اخلي یا ګواښ کوي ترڅو بل کس کنټرول کړي؛ یا هغه چلند چې یو کس پکې د جنسي تاوتریخوالي ګواښ یا استعمال کوي د هغه چا پر وړاندې چې ورسره د مینې په اړیکه کې وي، چې یو یا دواړه کسان یې د ۱۳ څخه تر ۱۹ کلونو عمر ولري.

کورنۍ تاوتریخوالی (Domestic Violence)

د کورنۍ او کورنۍ د غړو ترمنځ ناوړه چلند، لکه څنګه چې د اوریګن د قانون (ORS 107.705) له مخې تعریف شوی.

ساتل شوې ډله (Protected Class)

هغه ډله چې د اوریګن د قانون (ORS) 339.351(3) له مخې تعریف شوې ده، یعنې د خلکو هغه ډله چې د نژاد، رنګ، مذهب، جنس، جنسي تمایل، د جنس هویت، اصلیت، د واده حالت، کورنۍ حالت، د عاید سرچینه یا معلولیت له مخې پېژندل کېږي یا داسې انګېرل کېږي.

جنسي تمایل (Sexual Orientation)

د یو شخص حقیقي یا اټکلي هیتروسکسوال، همجنسګرا یا دوه‌جنسه تمایل.

د جنس پېژندنه (Gender Identity)

د یو شخص د جنس پورې تړلی هویت، بڼه، څرګندونه یا چلند، پرته له دې چې دا د هغه جنس سره توپیر ولري چې د زېږون پر مهال ورته ټاکل شوی وي.

غچ اخیستنه (Retaliation)

هر هغه عمل، چې پکې ځورونه، ګواښ، زورونه، ګواښوونه یا سایبري زورونه شامل وي، د هغه چا پر وړاندې چې د دې ډول پېښو قرباني وي، یا راپور یې ورکړی وي، یا د پلټنې برخه وي، د غچ اخیستنې په توګه ترسره شي، غچ اخیستنه بلل کېږي.

لارښوونې

1. له زده‌کوونکو څخه تمه کېږي چې داسې چلند وکړي چې یو مثبت تعلیمي چاپېریال رامنځته کړي.
2. د زده‌کوونکو، کارکوونکو یا دریمو اړخونو له لوري د زده‌کوونکو پر وړاندې هر ډول ځورونه، ځورول، ګواښ، زورونه، ګواښوونه، د تنکیو ځوانانو د مینې تاوتریخوالی، او سایبري زورونه په کلکه منع دي .
3. د بنوونځي اداره به ټول راپورونه ترلاسه کړي او د سرپرست (Superintendent) له لوري ټاکل شویو کړنلارو سره سم به د هر ډول راپور شوې پېښې ژر او په وخت څېړنه وکړي.

a. هر کارکوونکی چې د دې پالیسۍ د سرغړونې په اړه معلومات ولري، باید سمدستي خپل اندېښنې د بنوونځي اداري ته راپور کړي چې د ټولو څېړنو عمومي مسؤلیت لري.

b. که یو کارکوونکی د ځورونې، ګواښ، زورونې، ګواښوونې، د تنکیو ځوانانو د مینې تاوتریخوالي یا سایبري زورونې کومه پېښه راپور نه کړي، کېدای شي د اصلاحاتي اقداماتو سره مخ شي، حتی تر دندې ګوښه کېدو پورې. دا ډول اقدامات یوازې د نامعلوم (بې‌نومه) راپور پر بنسټ نه شي کېدای.

c. هر زده‌کوونکی چې د دې پالیسۍ د سرغړونې په اړه معلومات ولري یا احساس وکړي چې د یادو کړنو سره مخ شوی، هڅول کېږي چې سمدستي خپلې اندېښنې د بنوونځي اداري ته راپور کړي.

d. هر داوطلب چې د دې پالیسۍ د سرغړونې په اړه معلومات ولري، هڅول کېږي چې سمدستي یې د بنوونځي اداري ته راپور کړي.

e. د زده‌کوونکي یا داوطلب له خوا راپور ورکول کېدای شي بې‌نومه وي. هغوی کولای شي خپلې اندېښنې یو بنوونکي یا مشاور ته هم وړاندې کړي چې هغه به یې د بنوونځي اداري ته ورسوي.

f. د بنوونځي د مدیر (Principal) پر وړاندې راپورونه باید د بشري سرچینو څانګې یا سرپرست ته وړاندې شي.

g. د سرپرست (Superintendent) پر وړاندې راپورونه باید د بنوونځي د بورډ مشر ته وړاندې شي.

h. هر کارکوونکی، زده‌کوونکی یا دریم اړخ چې په ناسم ډول پر بل چا تور ولګوي، د غچ اخیستنې، ځوروني یا زورونې په موخه، د پایلو او مناسب اصلاحاتي اقداماتو سره به مخ شي.

i. که راپور د تعصب (bias) پېښه یا د کرکې نښه ولري، د ښوونځي اداره به د ADM-A012 پالیسۍ (د تعصب پېښې او د کرکې نښې) مطابق ګامونه واخلي.

j. که راپور داسې چلند شامل کړي چې د Title IX له قانون څخه سرغړونه کېدای شي، د ښوونځي مدیر به د ولسوالۍ د Title IX همغږي کوونکي سره اړیکه ونیسي.

4. د ښوونځي اداره به د هغه زده‌کوونکي والدین یا سرپرستان خبر کړي چې د ځورونې، ځورولو، ګواښ، زورونې، ګواښوونې، د تنکیو ځوانانو د مینې تاوتریخوالي یا سایبري زورونې قرباني شوی وي، او همدارنګه د هغه زده‌کوونکي والدین یا سرپرستان چې ښایي دا ډول عمل یې ترسره کړی وي، د INS-P006 طرزالعمل (د زده‌کوونکو د ځورونې، ځورولو، ګواښ، زورونې، سایبري زورونې، ګواښوونې او د تنکیو ځوانانو د مینې تاوتریخوالي د راپورونو د څېړنې) سره سم خبر کړي.

5. هغه زده‌کوونکي چې چلند یې د دې پالیسۍ خلاف وبلل شي، د پایلو او مناسب اصلاحاتي اقداماتو سره به مخ شي، چې کېدای شي د ولسوالۍ د انضباطي پالیسۍ او طرزالعمل مطابق دسپلیني اقدامات هم پکې شامل وي.

6. هغه کارکوونکي چې چلند یې د دې پالیسۍ خلاف وبلل شي، د پایلو او مناسب اصلاحاتي اقداماتو سره به مخ شي، چې کېدای شي تر دندې ګوښه کېدو پورې هم ورسېږي.

7. هغه دریم اړخونه چې چلند یې د دې پالیسۍ خلاف وبلل شي، د سرپرست (Superintendent) له خوا ټاکل شویو مناسبو بندیزونو سره به مخ شي.

8. زده‌کوونکي، کارکوونکي یا دریم اړخونه کېدای شي د قانون پلي کوونکو ادارو ته هم راجع شي.

9. د هر هغه چا پر وړاندې غچ اخیستنه چې قرباني وي، راپور ورکړی وي، داسې انګېرل کېږي چې راپور یې ورکړی وي، شکایت ثبت کړی وي، یا د پلټنې برخه وي، په کلکه منع ده. هر ځوک چې د غچ اخیستنې چلند وکړي، د پایلو او مناسب اصلاحاتي اقداماتو سره به مخ شي.

10. هر شخص کولای شي له ولسوالۍ وغواړي چې د کارکوونکو له خوا د راپور په ځواب یا پلټنه کې ترسره شوي اقدامات بیاکتنه کړي، د دې لپاره باید سرپرست ته په لیکلي ډول غوښتنه وسپاري. دا غوښتنه باید د پلټنې د پایلو له خبرتیا وروسته د ۱۰ کاري ورځو په موده کې وړاندې شي.

11. د ځورونې، ځورولو، ګواښ، زورونې، سایبري زورونې، ګواښوونې، د تنکیو ځوانانو د مینې تاوتریخوالي او کورنۍ تاوتریخوالي د مخنیوي او مناسب ځواب اړوند معلومات به د زده‌کوونکو او د ولسوالۍ د کارکوونکو په روزنیزو پروګرامونو کې شامل شي.

12. سرپرست به مسؤل وي چې دا پالیسي هر کال د زده‌کوونکو او کارکوونکو په لارښود کتابونو، د ولسوالۍ په وېب‌پاڼه، او د ښوونځي او ولسوالۍ په دفترونو کې خپره شي. د دې پالیسۍ یوه کاپي لږ تر لږه د ۸.۵ × ۱۱ انچه په اندازه به په ټولو منځنیو او لېسو ښوونځیو کې ولګول شي.

13. د ORS 339.368 له مخې، د اوریګن د پوهنې وزارت له خوا د کورنۍ تاوتریخوالي اړوند چمتو شوي پوسټرونه به د ښوونځي په ښکاره ځایونو کې ولګول شي.

14. ولسوالۍ د جنسي ځورونې لپاره جلا پالیسي هم تصویب کړې ده.

15. د ښوونځي اداره او سرپرست دواړه مسؤل دي چې دا پالیسي په سمه توګه پلي شي.

د پلي کېدنې ساحه (APPLICABILITY)

- دا پالیسي پر ټولو زده‌کوونکو، کارکوونکو، د ښوونځي د بورډ غړو، او دریمو اړخونو تطبیقېږي.

اړوند اسناد (ASSOCIATED DOCUMENTS)

- INS-P006 - د زده‌کوونکو د ځورونې، ځورولو، ګواښ، زورونې، سایبري زورونې، ګواښوونې او د تنکیو ځوانانو د مینې تاوتریخوالي د راپورونو څېړنه
- ADM-A012 - د تعصب پېښې او د کرکې نښې
- HUM-A029 - جنسي ځورونه

د تصویب واک (APPROVAL AUTHORITY)

- بشري منابع

د بیاکتنې تاریخچه (REVISION HISTORY)

- 07/11/2022 - پالیسي جوړه او تصویب شوه
- 12/06/2024 - د لاسرسي وړ بڼې ته بدله او د ORS 339.356 غوښتنو سره سمون ورکړل شو
- 03/26/2026 - تعریفونه زیات شول او د Title IX همغږي کوونکي ته د خبر ورکولو برخه ورزیاته شوه